ع : شیر زوی

۲۰۱۰/۰۳/۲۱م

# د سولي استازي که د زهرو پاشونکي؟

زموږ ګران هیواد افغانستان په خپل د ویاړه ډک تاریخ کي د داسي لوړو ژورو سره پاتي شوي دي چي د خپلو باتورو بچیانو پر مټ یي ځان د ډیرو کړکیچو څخه را بهر کړي دي. خپل ملی حاکمیت، ملی هویت، د خاورې بشپړتیا یي د خپلو سرونو په بدله ساتلي ده. د تاریخ په اوږدو کي هر یرغل ګر چي پدې پاکه خاوره رادنګلي دسکندر مقدونی څخه نیولي بیا تر کوشانیانو، هخامنشیانو، ساسا نیانو، د فارسیانو امپراطورۍ، د هند آشوکایي امپراطورۍ، د انګریزانو درې واریزه یرغل، دسرې امپراطورۍ یرغل ددي خبرې ښه ثبوت دي چي هر یرغل ګر په خپل وار سره خپل قوت دلته ازمایلي دي په مقابل کي ددي خاورې د اتلانو څخه یي داسي غاښ ماتونکي ځوابونه تر لاسه کړي چي څوک یي نیم ځانه شول او څوک یي لا تر اوسه د باتوره غازیانو د تورو د شړنګاه څخه په کټو کي آرام نلري.
ددي خاورې له اتلانو څخه یو هم ستر احمد شاه بابا دي. کله چي نادر افشار د ایران د « خبوشان » کي له خپلو ساتونکو لخوا ووژل شو نو بابا د خپلو افغانی عسکرو پر مټ یي هم دولتی خزانې او هم وسلې خوندې وساتلي او هم یې د نادر افشار کورنی، اولادونه د بی سترۍ او ضرر څخه وژغورل او وساتل. ستر احمد شاه بابا سم د لاسه کندهار راستون شوه پدې وخت کي د هیواد نازوکو حالاتو یو با تد بیره لاربښود ته سترګي په لاره وه هماغه و چي په « ۱۷۴۷ م کال » د اکتوبر په میاشت کي د « شیر سرخ » په هغه ستره جرګه کي چي (۹) ورځي یي دوام وکړ د وطن د واکمن په توګه انتخاب شو دا جرګه د ملیتي ترکیب له مخي د تیرو سترو جرګو په پرتله منځ پانګه یي ډیره غنی و ځکه چي پښتنو، بلوڅو، تاجکو، هزاروو او نورو قومونو استازې ددې جرګي ګډون وال و. احمد شاه بابا نه یواځي د پښتنو او نورو قومونو د وحدت او یووالی د مزیو په کلکولو لړۍ د هماغي اولي ورځي څخه راپیل کړه بلکي د صفوي او د هند کورګاني دولتو استعماری جغ یي د افغانستان د ټولو سیمو څخه لیرې کړ د بابا بریا پدې کي نغښتي و چي افغانستان یې د ګدو ملیتو کور ګاڼه او پښتون قوم یې د دې ګډ کور زیر بنایي خښتې ګڼلي.
پدې کي هیخ شک نشته هر هغه څوک چي د علم په زیور سنګار وي واقیعتونه د علم په رڼا کي څیړي، ورننوزي، ورسره درومي بیا د خپل نظر اظهار کوي او هر هغه څوک چي ددي صفت څخه فاقد او فقیر وي د نورو پسي درومي، په خپل ځان باور نلري، زر تطمیع کیږي نشي کوالاي حقیقت درک کړي دلته دي چي د بې باورو کسانو تر منځ او د حقیت نر منځ په واټنو فاصله پیدا شي. ددغو بې باورو کسانو څخه یوهم ریچردهالبورګ دی چي د امریکا لخواخاص استازې د افغانستان او پاکستان له پاره ګمارل شوي.
د ۲۰۱۰ » کال د مارچ په پنځمه نیته د امریکا د « هارورډ په پوهنتون کي ریچرد هالبورګ په یو کنفراس کي ګڼو اوریدونکو ته په وینا کي داسې وویل : ( امریکا د افغانستان د سولي په پروسه کي شامله نده، طالبان د پښتني ټولني زیږنده دي او د پښتنو په هره کورنۍ کي یو کس د طالبانو سره اړیکي لري ) [ نوموړې بیا خپله خبره راغبرګه کړه او وویل : چي پښتانه او طالبان یو د بل سره داې کوشیر شویدي چي جدایي نلري ] د ۲۰۰۱ م کال څخه راپدې خوا واشنګتن پر افغانستان تسلط لري د هماغي ورځي څخه راپدې خوا واشنګتن د پښتون قوم په وهلو کي لاس لري، د امریکا خاص استازی وایي پښتو ژبه یوه لوکل « محلی » ژبه ده. هغې فرید ذ کریا ته وویل کله چي کرزی د مارچي به والسوالی کي خلکو په پښتو « لوکل » ژبې خبرې کوالاي د نوموړې دغه وینا یوه مسخره وینا وبلله چي د غلطو رپورو او معلوماتو له مخي کړیده او د کاذبو معلوماتو پر بنسټ ولاړه ده هالبورګ په هماغه غلط شان یي په نورو ځایو کي انعکاس ورکوي. د حیرانتیا خبره نده چي نوموړې ولی د داسي غلطو ویناو څرګندونه کوي، دغه غلط راپورونه د شمالی ټلوالي لخوا دده په اختیار کي ورکول کیږي.
زما له پاره د حیرانتیا خبره دا ده چي امریکا د یوې لوی او قوی میډ یا په لرلو سره د هالبورګ د حقیقت څخه لیرې څرګندوني ولی نه اصلاح کوي او د خپرولو اجازه ورته ورکوي. هالبورګ په ډیره بې عقلانه ډول سره دا یادونې د پښتو د ژبې به اړوند کړی دي. نوموړی ته لازمه ده چي د خپلې دندې او مکلیفتو پر بنسټ د افغانستان د تاریخ پاڼې وګوري څه اړین معلومات د پښتو د ژبې په هکله تر لاسه کړي. نوموړی باید د افغان ولس څخه بخښنه وغواړي، نن ورځ غربی نړۍ د ټولو افغانانو مقروضه ده او لازمه ده چي غربی نړۍ د افغانستان په بیا ودانولو کي د زړه له کومې پریکړنده ګامونه اوچت کړي. کچیرې د افغان ولس سر ښند نه او میړانه نه واې نن به د برلین دیوال په خپل ځای ولاړ وه، د وارسا تړون به د پخوا څخه لا خوځنده واي، او سرې امپراطورۍ به خپلې نظامی اډې د هندوستان په تودو اوبو کي بنا کړي واي چي د نړۍ له پاره ستر ګواښ وه. د افغانانو دي سترې سربښندنې ته حرمت او درناوې په کار دي لازمه ده چي د نړۍ سوله غوښتونکي خلک خپل لاسونه د احترام په رسم خپلو ټنډو ته پورته کړي او د افغان ولس دا میړانه وستا یې دا د دوي حق چي باید ادا شي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

نه دا چې د ريچرد هالبورګ په شان بی مسؤليته خلک د نورو په لمس د پښتون ستر ټبر او د پښتو ژبه چې ددی خاورې د اکثريت ژبه ده توهين او تحقير کړي او د سر ښندنې پاداش يې د زهرو د پاشولو په بڼه کې ادا کړي.

په ډير درنښت

ماخذ :
دوکتور رحمت ربيع زيرک يار ليکنه : د نعيمی ويپ سايټ څخه
د بازمحمد ساپی ليکنه : د لراوبر د ويپ سايټ څخه
افغانستان د تاريخ په رڼا کې : علامه پوهاند حبيبی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ